هفته‌نامه
آبادي اوونيزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
شنبه، د شوال ۱۹ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۳

Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
درياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

## سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په پنځمه نېټه د قزاقستان جمهوريت د لومړي وزير د مرستيال په مشرۍ له راغلي پلاوي سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال د دواړو لورو ترمنځ پر سياسي، اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيټي مسايلو خبرې وشوې. دغه راز د افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې پر غځولو هم خبرې وشوې.

د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو په ځانګړې ډول افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اړيکو پراختيا به وکولای شي چې دواړه لوري اقتصادي او سوداګريز فرصتونه ترلاسه کړي. قزاقستان د انرژۍ يانې تېلو او ګازو پريمانه زېرمې لري. دې توکو ته د جنوبي آسيا هېوادونه اړتيا لري. نو قزاقستان او افغانستان دواړه اړ دي چې د خپلې سوداګرۍ او اقتصادي فعاليتونو د پراختيا او ترانزيټ له پاره داسې لارې چارې ولټوي چې له مخې يې دغه برخې وده وکړي. قزاقستان هڅه کوي چې خپل تيل، ګاز او کرنيز محصولات د افغانستان له لارې سويلي آسيا ته وليږدوي او افغانستان بيا ازادو اوبو ته لار نه لري، خپل صادرات او واردات د ګاونډيو هېوادونو له لارې ترسره کوي. نو اوس ويلای شو چې دواړه هېوادونه کولای شي د يو بل له موقعيت څخه په استفادې خپلې سوداګرۍ او اقتصادي فعاليتونو ته پراختيا ورکړي.

قزاقستان د افغانستان د ترانزيت په مسير کې پروت دی او افغانستان کولای شي له دې لارې له چين، روسيې او تورې بحيرې سره ونښلول شي. چين او روسيه د افغاني غاليو، قيمتي ډبرو او وچې مېوې له پاره ښه مارکيټونه دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې له قزاقستان سره خپلې اړيکې پراخې او افغانستان د سيمې هېوادونو د وصل په مرکز بدل او هم د ځمکې له لارې د افغاني محصولاتو له پاره ترانزيټي لاره پيدا او خپلې سوداګرۍ ته پراختيا ورکړي. په دې برخه کې د قزاق پلاوي له لوري د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې د غځولو طرح وړاندې شوه. که چېرې د رېل پټلۍ دا شبکه وغځول شي، نو له يوه لوري به مسير را لنډ شي او له بل لوري به د مرکزي آسيا هېوادونه د افغانستان له لارې سويلي آسيا او افغانستان به د ترکمنستان او قزاقستان له لارې له چين او اروپا سره ونښلوي. د دې رېل پټلۍ د پروژې په بشپړېدو سره به نه يوازې قزاقستان بلکې افغانستان هم خپله سوداګري او ترانزيټ پراخ او په اسانۍ سره به ازادو اوبو ته لار پيدا کړي.

له دې څخه جوته شوه، چې اسلامي امارت د افغانستان د بقا او اقتصادي ټيکاو له پاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړې دي. ټولې هغه پروژې چې کولای شي افغانستان له نړۍ سره ونښلوي او د افغاني محصولاتو له پاره د مارکېټ پيدا کولو ترڅنګ سوداګري پراخه کړي، عملي کېدو ته پوره ژمن دی. له نړۍ په ځانګړې ډول آسيايي هېوادونو سره د اړيکو په پراختيا سره به افغانستان ډېر ژر له اقتصادي پلوه پر ځان بسيا او افغانستان به په نړيواله کچه خپل پرستيژ ترلاسه کړي.

## افغانســتان او قزاقســتان د اوســپنې پټلۍ د نوې شبکې پر غځولو خبرې وکړې



۲ مه صفحه

## محـــترم مـــلا عبدالغنی برادر آخنـــد معاون اقتصادی ریاســـت‌الوزراء با حسن کاظمی قمی نماینده ویـــژه رئیس جمهور ایـــران در امور افغانستان و سفیر ایران در کابل دیدار نمود



۲ مه صفحه

## د بانکي ســکتور پــر وړاندې پراته خنډونه



۵مه صفحه

# افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې پر غځولو خبرې وکړې



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان جمهوريت د لومړي وزير د مرستيال محترم سريک ژومانگارين سره د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د غويي مياشتې په پنځمه نېټه د ارگ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سياسي، اقتصادي، سوداگريزو، د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو او ترانزيټي مسايلو په اړه خبرې وشوې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او قزاقستان اړيکو ته په اشارې سره وويل، واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دې فرصت رامنځته شو، چې د دواړو لورو ترمنځ سياسي او اقتصادي اړيکې لا ټينگې او پياوړې شي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ کچې زياتېدو په موخه په هرات ولايت کې د قزاقستان د سوداگرۍ خونې پرانيستل، افغان – ټرانس پروژه کې د پانگونې لپاره د دغه هېواد لېوالتيا او همدارنگه له هغو تحريم شوو گروپونو څخه د اسلامي امارت ايستل چې دغه هېواد په خپله خاوره کې پرې بنديز لگولی و؛ مهم او اساسي گامونه ياد کړل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، افغانستان تازه له اشغال او جگړو راوتلی، د پرمختگ پر لور يې لومړني گامونه پورته او د اقتصاد او سوداگرۍ لپاره يې پراخ بنسټونه رامنځته کړي؛ خو سره له دې هم د کرنې، روغتيا، زېربنا او يو شمېر نورو برخو کې ځينې ستونزې شته، چې په دغو برخو کې د قزاقستان د همکاريو او گډ کار غوښتنه کوي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو د سوداگرو بانکي ستونزو ته د رسېدنې په موخه د هوکړه ليک پر لاسليک، د افغان – قزاق گډو کمپنيو پر جوړولو او د افغان سوداگرو لپاره د وېزو د ورکړې په برخه کې د آسانتياوو پر رامنځته کولو ټينگار وکړ.

ورپسې د قزاقستان لومړي وزير مرستيال محترم سريک ژومانگارين واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په افغانستان کې د شوو پرمختگونو ستاينه وکړه او ويې ويل، دوی د باثباته او پرمختللي افغانستان لپاره له اسلامي امارت سره يوځای کار کوي. نوموړي د افغان – ټرانس پروژه کې له شوو پرمختگونو هرکلی وکړ او زياته يې کړه، که چېرې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي دا به د نورو پروژو په پرتله لنډه او د ښکېلو هېوادونو لپاره اقتصادي تمامه شي او وبه کولای شي، چې د مرکزي آسيا هېوادونه د افغانستان له لارې سويلي آسيا او افغانستان به د ترکمنستان او قزاقستان له لارې له چين او اروپا سره ونښلوي. نوموړي وويل، د قزاقستان حکومت په نظر کې لري چې له افغانستان سره د سوداگرۍ زياتولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د صنعت او سوداگرۍ گډه خونه او د تجارت او کار گډ گروپ رامنځته کړي. د ښاغلي ژومانگارين په خبره، قزاقستان چمتو دی چې د افغانستان په کانونو کې د قزاقي پانگوالو پر پانگونې سربېره له افغانستان سره د برېښنايي حکومتولۍ، صنعت، لوړو زده کړو، پوهنې، روغتيا او بانکي سکټورونو کې هم همکاري وکړي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء با حسن کاظمی قمی نماینده ویژه رئیس جمهور ایران در امور افغانستان و سفیر ایران در کابل دیدار نمود



در این دیدار ملا عبداللطیف منصور وزیر انرژی و آب، مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، ملا خیرالله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ و مولوی فضل محمد حقانی سفیر افغانستان در تهران نیز حضور داشتند. در این ملاقات روی تقویت روابط سیاسی، اقتصادی، تجارتی و ترانزیتی و همکاری های دوجانبه در زمینه های گونا گون بحث صورت گرفت.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء روابط میان افغانستان و ایران را بهتر و مثبت توصیف نموده، تاکید کرد که هر دو کشور باید برای توسعه روابط با یکدیگر همکاری نمایند. محترم ملا صاحب گفت، امسال به فضل الهی سطح بارندگی بلند بوده که در نتیجه آن پس از چندین سال خشکسالی، آب دریایی هلمند به ولایت نیمروز و به ولایت سیستان ایران رسیده است که به گفته محترم ملا صاحب، این کمک خواهد کرد که مشکلات بیشتر مردم هر دو کشور را حل نمایند. همچنین محترم ملا عبدالغنی برادر آخند خواستار ایجاد تسهیلات بیشتر در ترانزیت تولیدات و محصولات افغانی به کشورهای اروپایی از

طریق ایران شد و این امر را گامی اساسی برای افزایش سطح ترانزیت و تجارت بین دو کشور یاد نمود. محترم ملا صاحب گفت، به تعقیب سفر وی به ایران، کمیته های تخنیکی هر دو جانب با هم همکاری می کنند و در زمینه های مختلف نتایج خوبی به دست آورده اند.

سفیر ایران در کابل از رسیدن آب دریای هلمند به سیستان ایران ابراز خرسندی نموده، افزود که ایران آمادهٔ همکاری با افغانستان برای حل مشکلات بانکی تجاران، مبارزه مشترک با حفاظت از محیط زیست، عصری نمودن سکتور زراعت و همچنان در افزایش سطح تجارت و ترانزیت افغانستان از طریق ایران همکاری می کنند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مشکلات پناهجویان افغان مقیم ایران اشاره نمود و از طرف ایرانی خواست که اخراج اجباری مهاجران افغان از این کشور را متوقف نماید و هماهنگی خوبی بین هر دو طرف در این زمینه نیز به میان آید.





# د افغان - قزاق سوداګرۍ فورم پرانیستل شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال محترم سریک ژومانګارین له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغان – قزاق سوداګرۍ فورم پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او صنعت د پرمختګ په برخه کې د دغه فورم جوړېدل مهم وبلل، چې په خبره یې، څه وخت مخکې په قزاقستان کې هم ورته فورم جوړ شو، چې په پایله کې یې د دواړو لورو ترمنځ د میلیونونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک شول.

د محترم ملا صاحب په خبره، په دغه فورم کې هم د افغانستان او قزاقستان تولیدات او محصولات نندارې ته





وړاندې شوي، چې په پایله کې به یې د دواړو هېوادونو صنعت‌کاران او سوداګر وکولای شي په مختلفو برخو کې تړونونه لاسلیک کړي او یو د بل له تجربو ګټه واخلي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې د پانګونې رامنځته شوو فرصتونو ته په اشارې سره وویل، چې کورني، بهرني او په ځانګړې ډول قزاقي پانګوال کولای شي دلته په مختلفو سکتورونو کې پانګونه وکړي، چې اسلامي امارت ورته تولې اسانتیاوې برابرې کړې او بشپړ ملاتړ یې کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ له راغلي پلاوي سره یې د اوسپنې پټلۍ پر هغه پروژه هم بحث کړی، چې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته غځول کېږي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ته دغه پروژه اهمیت لري او د تطبیق په برخه کې یې له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکوی.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ټولو هېوادوالو وغوښتل چې په دغه فورم کې نندارې ته د وړاندې شوو افغاني توکو تر څنګ قزاقي توکي هم واخلي.

# اعلامیهٔ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء 1.1.1 در پیوند به گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان!



در ارتباط به وضعیت اقتصادی افغانستان گزارشی در چهارم دسمبر۲۰۲۳ میلادی از سوی بانک جهانی منتشر گردید. در این گزارش به وضعیت اقتصادی افغانستان اشاره شده است. در گزارش آمده است، سطح انفلاسیون نسبت به ماه های گذشته دیگر هم کاهش یافته، عواید ملی افزایش یافته، سطح واردات ازدیاد یافته، در ارزش پول افغانی در برابر اسعار خارجی افزایش قابل ملاحظه به عمل آمده، در قیمت مواد خوراکی و غیر خوراکی کاهش به وجود آمده، در نظام بانکی پیشرفت صورت گرفته و خدمات با کیفیت صحی برای مردم عرضه گردیده است. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان از موارد ذکر شده فوق در گزارش منتشره بانک جهانی تحسین می کند، که بر واقعیت ها استوار می باشد، زیرا این پیشرفت ها یک واقعیت عینی است، که این بانک به جهان ارایه داشته است.

اینکه در گزارش گفته شده که نیمی از مردم افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می کنند، امارت اسلامی این موضوع را بخاطری رد می کند که بعد از تحول، در سطح کشور پروژه های بزرگ و متوسط آغاز گردیده که در آن برای ده ها هزار تن زمینه کار مساعد گردیده و همچنان با پیشرفت ها در عرصه های تجارت، صنعت، زراعت و زیربناها برای شهروندان فرصت‌های کاری فراهم گردیده که از اثر آن بسیاری از مشکلات مردم حل گردیده است. اینکه سازمان های جهانی از آن چشم پوشی می کنند این مسئله از واقعیت دور می باشد و امارت اسلامی آنرا تائید نمی کند.

امارت اسلامی افغانستان به این باور است که اگر جامعه جهانی به تعامل مثبت رو آورد، محدودیت ها بر سیستم بانکی و سایر عرصه ها را دور سازد و سرمایه منجمد شده مردم افغانستان را آزاد سازد، افغانستان در پهلوی سایر بخش ها در عرصه اقتصادی پیشرفت قابل ملاحظه‌ای خواهد نمود. همچنان امارت اسلامی افغانستان بار دیگر از تمامی سازمان های بین المللی می خواهد که در مورد افغانستان پیشرفت های را نمایان سازند که با گذشت هر روز در افغانستان به وجود میاید؛ با این حال جهان از وضعیت واقعی افغانستان و پیشرفت های انجام شده آگاه خواهد شد.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۲,۴۵؋ | ۷۲,۵۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۵۰؋ | ۲۵۰؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۱؋ | ۱,۳۱؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۷,۵۳؋ | ۷۷,۵۸؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۸؋ | ۰,۷۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۶۸؋ | ۸۶۸؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۹۰,۷۸؋ | ۹۰,۸۵؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۳۲؋ | ۱۹,۳۳؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۷۳؋ | ۱۹,۷۴؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱۰,۰۰؋ | ۱۰,۰۱؋ |

هفته‌نامه آبادي
اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# د بانکي سکتور پر وړاندې پراته خنډونه

لیکوال: فضل ولي شیراني




په افغانستان کې د سیاسي تحول په رامنځته کېدو سره د نورو برخو ترڅنګ اقتصادي نظام هم زیانمن شو. بهرنۍ مرستې په ټپه ودرېدې چې له امله یې د یو زیات شمېر پرمختیایي پروژو کارونه وځنډېدل. ددې چارې په پایله کې ډېری خلکو خپلې دندې او کارونه له لاسه ورکړل. بله دا چې په بازار کې د بهرنیو اسعارو کموالی و چې د افغانیو پشتوانه ګڼل کېده، له دې امله د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت راکم شو. دغه راز د امریکا له لوري د افغانانو د شتمنۍ کنګل کېدل و. ددې ترڅنګ په بانکي سکتور باندې د بهرنیانو له لوري یو لړ محدودیتونه هم وضع شول چې له امله یې بانکي سکتور یو څه ټکنی شو. خو په افغانستان کې له دې وړاندې یانې په تېرو دوو لسیزو کې بانکي سکتور له یو لړ ستونزو سره مخ و. په تېرو دوو لسیزو کې د بانکي سکتور فعالیتونه له ستونزو او سوالونو سره مل وو. د ۲۰۱۰میلادي کال د سپتمبر په میاشت کې کابل بانک چې د افغانستان تر ټولو لوی او مشهور خصوصي بانک و په داسې حال کې دیوالیه شو، چې د نوموړي بانک ټول قرضونه ۱۱۷۹میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېدل چې د نورو عواملو ترڅنګ، د مافیایي کړیو مداخله، د خصوصي بانکونو ناسالم رقابت، د بانک ناسم اقتصادي سیاست، په غیر قانوني بڼه د ونډوالو له خوا د میلیونونو ډالرو په ارزښت د امانتونو ایستل او د مرکزي بانک له خوا په سمه توګه نه مدیریت؛ د کابل بانک د سقوط له عواملو څخه ګڼل شو.

ددې ترڅنګ یوه بله ستونزه او خنډ چې بانکونو ته راولاړ شو هغه د هغو کسانو له خوا و چې د هېواد په بانکونو کې یې امانتونه درلودل، د کابل د تېرې ادارې تر رنګېدو وروسته تقریباً ټولو خلکو چې په بانکونو کې یې پیسې درلودې له دې وېرې چې هسې شتمني یې له لاسه وځي، هڅه یې وکړه چې خپلې پیسې له بانکونو څخه وباسي. دا موضوع تر دې حده جدي وه چې د افغانستان مرکزي بانک دې ته اړ شو چې د محدودیتونو سیاست غوره کړ. دا او دې ورته یو شمېر نورې ستونزې دي چې په افغانستان کې یې د بانکوالۍ سکتور پر وړاندې خنډونه راولاړ کړي دي. دا چې اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنېدو سره، له دې چې د نړیوالو له لوري پرې بندیزونه هم لګول شوي دي، په بانکي سکتور کې کوم پرمختګونه کړي، څه لاسته راوړنې لري او د ستونزو پر وړاندې یې ګوم ګامونه اوچت کړي دي، لاندې یې لولو.

## اسلامي امارت او د بانکي سکتور د شته ستونزو پر وړاندې پرېکنده ګامونه

سره له دې چې کله د کابل اداره ړنګه او اسلامي امارت واک ته ورسېد په ټول هېواد کې امنیت ټینګ او د فساد مخه ونیول شوه، خو سره له دې هم په ځینو برخو کې ستونزې رامنځته شوې. ددې ستونزو اصلي لامل هم ټولو ته معلوم دی او هغه د نړیوالو له لوري د افغانستان د بانکي پشتوانې ګنګل کېدل و. دې موضوع د افغانستان اقتصادي وضعیت ته جدي زیان ورساوه او د صنعت کارانو او پانګوالو فعالیتونه یې له ستونزو سره مخ کړل. د اقتصادي سکتور په ځانګړي ډول د بانکي سېستم په برخه کې یې ننګونې او ستونزې ډېرې کړې چې له امله یې اقتصادي او سوداګریزه برخه له پراختیا او پرمختګ څخه را ایساره کړه. خو اسلامي امارت له دې ستونزو سره سره پر دې وتوانېد چې اقتصادي څرخ په حرکت راولي او سوداګریزې اړیکې پراخه کړي چې ښه بېلګه یې په ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریز کلونو کې صادرات و چې کچه یې په ترتیب سره په هر کال کې شاوخوا دوه میلیارد ډالرو ته ورسېده. اسلامي امارت د خپل مدبرانه پولي سیاست په غوره کولو سره د بانکي سیستم په برخه کې شته ستونزې تر ډېره بریده کابو کړې او اوسمهال په دې برخه کې تر یوه حده پرمختګ شوی او لا هم هڅې رواني دي چې په بانکي سیسټم کې شته ټولو ستونزو ته پای ورکړل شي. په دې برخه کې د بانکي سکتور د ستونزو د هوارې په موخه د مالي ثبات کمېټه فعاله شوه چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي. ددې کمېټې دندې د مالي سیستم په اړه د افغانستان بانک لخوا د وړاندې شویو راپورونو کتنه، د هېواد مالي ثبات پر وړاندې د پرتو مالي کړکېچونو د مدیریت او له منځه وړلو په تړاو د اړینو اقداماتو ترسره کول او د هېواد د نافذه قوانینو او د نړیوالو منل شویو معیارونو په پام کې



نیولو سره د کمېټې د کاري کړنلارو او پالیسیو چمتو کول دي. د يادې کمېټې په وروستۍ غونډه کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابرول، د انفلاسيون کنټرول، د کانونو قانوني استخراج، د کرنيز سکتور معياري کول، د اوبو مديريت، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته د زمينې او شرايطو برابرول او يوشمېر نورو برخو ته اشاره وکړه او زياته يې کړه، چې د داسې لوی هدف ترلاسه کول يوازې د حکومت له لوري ستونزمن کار دی. محترم ملا صاحب دغه موخې ته د رسېدو په برخه کې د مجوزو بانکونو سهمدارانو، ملي سوداګرو او پانګوالو همغږۍ او همکارۍ مهمه وبلله او له هغوی يې وغوښتل چې په دې برخه کې له اسلامي امارت سره پوره همکاري وکړي. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د مجوزو بانکونو سهمداران هېواد ته راوبلل او له هغوی څخه يې وغوښتل، څو د خپلو بانکونو چارې په ښه ډول مديريت او د هېواد د بانکي سکټور په پرمختګ کې ونډه واخلي. ددې ترڅنګ اسلامي امارت تر دې مهاله په بانکي سکټور کې ځينې نورو ستونزو ته هم پای ورکړی دی. اوسمهال د هېواد په لرې پرتو سيمو کې بانکي خدمتونه وړاندې کيږي، په ټول هېواد کې راکړه ورکړه په افغانيو ترسره کيږي او د بهرنيو اسعارو مخه نيول شوې. د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړ شوی او دغه راز د افغانيو بانکنوټونه چاپ او په بدل کې يې له بازار څخه د افغانيو زاړه او له کاره لويدلي بانکنوټونه راغونډ او سوځول شوي دي. په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د رامنځته کېدو له پاره کار روان دی. کوم پخوانۍ تضمینات، طلبات او تامینات چې و، د هغې ورکړه روانه ده. د ادارو او معلوماتي ټکنالوژۍ سيستمونو ته پراختيا ورکړل شوې. د بانکونو د مشتريانو پر امانتونو محدوديتونه راکم شوي او په خصوصي بانکونو کې د نغدينګۍ ستونزې حل شوې دي. په همدې ډول د صعب الحصول پورونو له پاره کمېسيون جوړ او په کار يې پيل کړی دی. همدارنګه د کوچنيو پورونو د نهادونو له پاره د افغانستان بانک له خوا مقرره چمتو او په محاکمو کې مالي قضيو ته لومړيتوب ورکړل شوی دی. ددې په خوا کې د بانکونو د پياوړتيا او تقويې په موخه پر بانکونو د امارتي کارکوونکو د معاشونو حسابونه ويشل شوي او عوايد د بانکونو له لارې راغونډيږي. ددې چارو په ترسره کېدو سره ورځ تر بلې پر بانکونو د هېوادوالو د باور کچه لوړه او په بانکي سکټور کې شته ستونزې سوکه سوکه مخ په کمېدو دي. د اسلامي امارت هڅه داده، چې دغه مهم سکټور ته پوره پاملرنه وکړي، شته ستونزې يې هوارې او د پرمختګ او پراختيا له پاره يې کار وکړي.

## پایله

د افغانستان د بانکي ستونزو په بشپړ ډول د حل د په موخه په کار ده چې په اوسني وخت کې د افغانستان د بانکونو د تغذيې له پاره د شته سرچينو ترڅنګ نوې سرچينې هم پيدا شي. د بانکي اعتبار له پاره کره پروګرامونه خلکو ته وړاندې شي. که چيرې ستړې اقتصادي پروژې طرح او پلي شي چې اوس يې ځينې رواني دي او بهرنۍ پانګه راجلب شي، نو له دې سره به له يوه لوري پر بانکي سکټور د خلکو باور زيات شي او له بل لوري به اقتصادي څرخ په حرکت راشي. اسلامي امارت له پيل څخه د بانکي سيستم د پياوړتيا او پرمختګ له پاره خپل پلانونه درلودل او په عملي کېدو سره يې تر ډېره بريده په دې سکټور کې اسانتياوې رامنځته شوې او ډېرى هغو ستونزو ته چې د بهرنيانو له لوري د لګول شويو بنديزونو له امله رامنځته شوې وې، له منځه تللي دي. موږ دې لاسته راوړنو ته اشاره کړې ده. خو اسلامي امارت پر دې هم بسنه نه کوي، په روان ۱۴۰۳مريز کال کې د بانکي سکټور په بشپړ ډول په پښو درولو له پاره پلانونه لري چې په عملي کېدو سره به يې زموږ بانکي سيستم د نړيوالو معيارونو سره برابر خپل خدمات وړاندې کړي چې دا د هېواد په اقتصادي وده کې اغېزناکه ونډه درلودلې شي.

